Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

ګڼه: ۳

نېټه: ۱۴۰۳/۹/۱۰



د افغانســتان د اقتصادي پرمختګ (خبر پاڼه) د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت نوښت دی چـې د افغانســتان تـر ټولو مهم او وروســتي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په درېیو ژبو (پښـتو، دري، انګلیـسي) چمتـو او خپریـږي، تاســو کولی شــئ د افغانســتان د وروســتیو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د اوبو او انرژۍ وزارت د علمي او تخنیکي سیمینار پای غونډه کې د محترم ملا صاحب ګډون

۲- کابل ته د سرګي شویګو سفر او په افغانستان کې د اقتصادي فعالیتونو له پاره ښه فرصت

۳- د پانګونې بین الوزارتي کمېټه کې د دوه پروژو تائیدي

# د اوبو او انرژۍ وزارت د علمي او تخنیکي سیمینار پای غونډه کې د محترم ملا صاحب ګډون



د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د دغه وزارت د سینډیزو حوزو رئیسانو، مشاورینو، د انرژۍ زونونو آمرینو او انجینرانو ته د وړتیا لوړونې په موخه یو علمي او تخنیکي سیمینار جوړ شوی و چې پای غونډه کې یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هم ګډون درلود.

محترم ملا صاحب اوبه ارزښتمنې وبللې او زیاته یې کړه چې الله تعالی موږ ته له اوبو سره د سم چلند لارښوونه کړې ده. ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، په اوسني عصر کې د اوبو غوره مدیریت مهم او ملي مسوولیت دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند افغانستان کې د اوبو د طبیعي سرچینو په اړه وویل چې مسلکي چلند ورسره نه دی شوی او اسلامي امارت له هرې ممکنې لارې او امکاناتو څخه په استفادې د پیاوړې ارادې په لرلو سره د خپل هېواد د اوبو د غوره مدیریت له پاره هڅې کوي.

محترم ملا صاحب د سیمینار فارغانو ته مبارکي وویله او ترې ویې غوښتل چې د اوبو په څېر د مهم سکتور د ودې او د مظلوم ملت د هوساینې له پاره په پوره اخلاص کار وکړي.

افغانستان ډېرې اوبه لري چې کیدلای شي د ځمکو خړوبولو او برېښنا د تولید له پاره ترې ګټه واخلو، خو له بده مرغه د وروستیو لسیزو اشغال او جګړو افغانستان پرېنښود چې له خپلو سرچینو څخه سمه استفاده وکړي.

اوس چې په افغانستان کې د ثبات بې مخینې فرصت منځته راغلی، اسلامي امارت له دغه فرصت څخه په استفاده د اوبو مدیریت ته ژمن دی. د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د بندونو او چکډیمونو د جوړېدو له لارې د خپل هېواد د اوبو د مدیریت هڅې روانې دي.

اسلامي امارت د هېواد په کچه د هغو لویو او متوسطو بندونو ارزونه ترسره کړې چې کارونه یې نیمګړي یا هم نه و پیل شوي. د یادو بندونو د چارو بشپړولو لپاره جامع کاري پلانونه جوړ شوي چې له مخې یې د تېرو درېیو میاشتو په جریان کې په پکتیکا کې د پلتوني بند، په لغمان کې شاهي کانال او په ارزګان کې د اغاجان بندونو عملي چارې پیل او په زابل کې د عمري بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د پلتوني بند پر جوړېدو سره به شاوخوا ۲۵ میلیونه مترمکعب اوبه زېرمه، ۲۵۰۰ هکتاره ځمکه به خړوبه او ورسره به ۹۳۵ کیلو واټه برېښنا هم تولید شي. د پلتوني بند د چارو په بشپړېدو سره به تر ځمکه لاندې اوبو زېرمې قوي، کرنیزې ځمکې به خړوبې، سېلابونه به کنټرول او د چاپېریال په خوندي ساتلو کې به رغنده رول ولوبوي.

همدا ډول د لغمان شاهي کانال ۷۰ کیلومتره اوږدوالی لري چې د جوړېدو چارو په بشپړېدو سره به لغمان ولایت کې شاوخوا ۲۰ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه او سلګونو هېوادوالو ته به د کار زمینه ورسره برابره شي.

همداراز په ارزګان ولایت کې به د اغاجان بند پر جوړېدو سره موسمي سېلابونه کنټرول او د ځمکې لاندې اوبو د سرچېنو په تقویه کې به رغنده رول ولوبوي. د اغاجان بند څه د پاسه د ۷۰ میلیونه متر مکعب اوبو د ذخیره کولو ظرفیت لري چې ۷ زره هکتاره کرنیزه ځمکه به خړوبه کړي.

د یادولو وړ ده چې د روان لمریز کال د میزان میاشتې په ۵مه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري په زابل کې د عمري بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

دغه بند د ۲۳ مترو په لوړوالي د ۲،۹ میلیونه مترمکعب اوبو د ذخیره کولو او د ۶۱ کیلو واټه برېښنا د تولید ظرفیت درلودونکی دی او ۵۶۰ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبوي چې زرګونه کورنۍ ترې ګټه اخلي.

# کابل ته د سرګي شويګو سفر

## او په افغانستان کې د اقتصادي فعاليتونو له پاره ښه فرصت



د روسيې د ملي امنيت شورا عمومي منشي سرګي شويګو له يو لوړ رتبه پلاوي سره کابل ته راغلی و. شويګو د ارګ په چهار چنار ماڼۍ کې د رياست الوزراء له اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره وليدل. د ليدنې پر مهال يو شمېر افغان او روسي لوړ رتبه مسوولينو هم حضور درلود.

په دغه ليدنه کې د دواړو هېوادونو تر منځ په سياسي اړيکو، اقتصادي همکاريو، سوداګرۍ او ټرانزيټ په زياتېدا او په افغانستان کې د روسي پانګوالو په پانګونې خبرې وشوې.

محترم ملا صاحب په خپلو خبرو کې وويل چې په افغانستان کې د ثبات په راتلو سره دغه هېواد په سيمه کې د اقتصادي همکاريو، سوداګرۍ او ترانزيټ په مرکز بدل شوی دی. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، دا وضعيت نه يوازې د افغانستان بلکې د سيمې په ګټه هم دی.

محترم ملا صاحب وويل، اسلامي امارت په افغانستان کې د امنيت او اقتصادي ودې له پاره هڅې کوي چې په همدې موخه يې په هېواد کې د نشه يي توکو کښت بند کړی او ټولې هغه ډلې يې له منځه وړي چې د افغانستان او سيمې امنيت او اقتصاد ته زيان رسوي.

محترم ملا صاحب وويل، افغانستان د شمال-جنوب اقتصادي دهلېز په تقويت کې مؤثر رول لوبولو ته لېواله دی او په دې سره غواړي چې په سيمه کې اقتصادي اتصال عملي او له ستونزو خلاص شي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، اسلامي امارت غواړي چې د سيمې او لرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان صادراتو ته زمينه برابره کړي. په دې برخه کې يې له روسيې څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه.

واک ته د اسلامي امارت له رسېدو وروسته د روسيې په ګډون ځينو هېوادونو يو شمېر امنيتي اندېښنې درلودې، خو اسلامي امارت ثابته کړه چې خاوره يې د هيچا پر ضد نه کارول کېږي او په افغانستان کې هغه ډلې ځپل شوي چې يو شمېر ګاونډيو هېوادونو يې په اړه اندېښنه درلوده.

اسلامي امارت د اقتصاد محوره پاليسۍ پر بنسټ هېچا ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاورې کوم بل هېواد ته ګواښ پېښ او افغانستان بې ثباته وښيي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له پېله هڅه کړې چې له نړۍ سره متقابله اقتصادي همکارۍ او سوداګريزې اړيکې زياتې او په افغانستان کې بهرنۍ پانګونې ته اسانتياوې رامنځته کړي.

روسيه چې د نړۍ يو پياوړی اقتصادي قوت دی، په افغانستان کې له راغلي کم ساري فرصت څخه د پانګونې له پاره ښه استفاده کولی شي.

کابل ته د سرګي شويګو سفر ډېر مهم پيغام لري او هغه دا چې افغانستان بشپړ امن او د اقتصادي فعاليتونو او سوداګريزو اړيکو له پاره بهترين او ښه فرصت موجود دی.

# د پانګونې بین الوزارتي کمېټه کې د دوه پروژو تائیدي



اقتصادي معاونیت کې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ناسته کې د ۱۴۰۳ کال د قوس په شپږمه نېټه د دوه پروژو طرحې تائید او د درې پروژو په طرحو بحث وشو.

هغه ناسته چې په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، په کې د بغلان په خنجان ولسوالۍ کې د تیر پارک او په مزار شریف ښار کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو په اړه د تخنیکي ارزونې راپورونه وړاندې شول، چې دواړو پروژو ته د تائید نظر ورکړل شو.

د بغلان په خنجان ولسوالۍ کې د ۲۰۰ میلیون افغانیو په ارزښت د تیر پارک جوړولو او په مزار شریف کې د ۸۰ میلیون افغانیو په ارزښت د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحې به د اقتصادي کمېسیون له تاییدۍ او د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب له منظورۍ وروسته پلې شي.

دغه راز، په یاده غونډه کې د لوګر ولایت په مرکز پل علم کې د ۱۰۰ میګا واټه لمریزي بریښنا، د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د ۵۰ میګا واټه لمریزي بریښنا او د جلال اباد ښار په ځلورمه ناحیه کې د سوداګریز مارکېټ د جوړولو په طرحو هم بحث وشو.

په پای کې د یادو طرحو د هر اړخیزې ارزونې له پاره جلا جلا کمېټې وټاکل شوې، څو راپورونه په راتلونکو ناستو کې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

د پانګونې بین الوزارتي کمېټې له دې وړاندې هم په یو شمېر ولایاتو کې د ځینو سوداګریزو مارکېټونو او پارکونو طرحې تائید کړې او اقتصادي کمېسیون ته یې د تاییدۍ له پاره استولې وې.

د پانګونې بین الوزارتي کمېټې له رامنځته کېدو سره د هېواد په مختلفو سکټورونو کې کورني او بهرني پانګوال پانګونې ته جلب شوي دي. د یادو پانګونو په لړ کې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې شاوخوا (۱۲) میلیارده افغانیو په ارزښت پروژې عملاً جریان لري چې له امله یې په سلګونه هېوادوالو ته په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه کاري زمینه برابره شوې ده.

